Australian Government
Immigration Assessment Authority

# هغه څۀ چې تاسو باید د مهاجرینو د ارزونې د ادارې په هکله وربانديې وپوهیږئ

## د مهاجرینو د ارزونې اداره(آی ای ای) څه کوي؟

د مهاجرینو د ارزونې اداره د *کال ۱۹۵۸ د مهاجرت(کډوالی)*(د قانون) پر بنسټ جوړه شوې ده. زموږ اداره یوه خپلواکه اداره ده چې د مهاجرت او د سرحدونو د ساتنې د چارو د وزیر ځینو پریکړو ته په عاجله توګه د بیا کتنو صلاحیت لري.
دا هغه پرېکړې دي چې د هغو پر بنسټ د مهاجرینو وزیر د فاسټ ټریک (په عاجله توګه) د غوښتنلیک د درلودونکو کسانو د پناه غوستنې وېزې رد کړې دي. که چېرې تاسو د ۲۰۱۲ کال د اګسټ په ۱۳ مه یا وروسته د هغې نه د قانوني ویزې د لرلو څخه پرته په کشتۍ کې استرالیا ته راغلي یئ، تاسو د فاسټ ټریک د غوښتنلیک درلودونکي یاست، خو که د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د لمړۍ نېټې څخه مخکې راغلي یئ او د وزیر لخوا تاسو ته دا اجازه درکړل شوې وي نو کولی شئ چې د پناه غوښتنې د ویزې د تر لاسه کولو لپاره په استرالیا کې غوښتنلیک ورکړئ. همدا راز کېدای شي چې تاسو هم د فاسټ ټریک د غوښتنلیک د درلودونکو هغو کسانو په مینځ کې اوسئ چې د وزیر له خوا څخه ځانګړي شوي دي.

که تاسو د ساتنې خوندیتوب ویزه رد کړې، د کورنیو چارو وزارت( ځانګه )به تاسو ته ووایي چې آیا تاسو د IAA لخوا بیا کتنې مستحق یاست.
د مهاجرینو د ارزونې اداره د فاسټ ټریک د غوښتنلیک د درلودونکو غوښتنلیک د بیا ارزونې لپاره نه مني. که چېرې تاسو د فاسټ ټریک د غوښتنلیک درلودونکي یاست او ستاسو غوښتنه د پناه غوښتنې د وېزې د ترلاسه کولو لپاره نه وي منل شوې او ستاسو غوښتنلیک د بیا ارزونې مستحق وي، ځانګه د مهاجرینو اداره به په اتوماتیکه توګه ستاسو کېس موږ ته راواستوي.

## د مهاجرینو د ارزونې اداره څۀ ډول پریکړې کولی شي؟

د مهاجرینو د ارزونې اداره دوه ډوله پرېکړې کولی شي. موږ د مهاجرینو د ادارې د هغې ځانګه پرېکړې سره موافقه کولی شو چې تاسو ته یې د پناه غوښتنې ویزه نه ده درکړې، او یا هم کولی شو چې ستاسو کېس د زیاتې پاملرنې لپاره د مهاجرینو ادارې ځانګه ته واستوو، د بېلګې په توګه، موږ ته څرګنده شوه چې تاسو اصلي پناه غوښتونکي یاست. د مهاجرینو د ارزونې اداره دا واک نلري چې د پناه غوښتنې ویزه ورکړي.

موږ به یوازې هغه معلومات په پام کې نیسو چې د مهاجرینو ادارې ځانګه ته د کېس د ردولو د ځانګه پرېکړې څخه مخکې ورکړل شوي وي. په ځینو ځانګړو حالاتو کې پرته د هغې نه کېدای شي نوي معلومات تر غور لاندې ونیول شي.

که ستاسو کېس د مهاجرینو د ادارې ځانګه له خوا نه د مهاجرینو د ارزونې ادارې ته واستول شو، موږ به په مستقیمه توګه د خپلې پرېکړې او د هغې د دلیل په هکله له تاسو سره اړیکې ونیسو او تاسو به خبر کړو.

د پناه غوښتنې د ویزې لپاره معیارونه د مهاجرت په قانون کې شته دي. په زیاتره کېسونو کې اصلي موضوع داده چې ایا ته په رښتیا پناه غوښتونکی یې، یا که تا د استرالیا څخه کوم بل هېواد ته واستوي، هلته به د کوم لوی زیان څخه وځوربېږې.

که ستاسو د ویزې په غوښتنلیک کې د کورنۍ نور غړي شامل وي، موږ به کوښښ وکړو چې ستاسو پر کېسونو باندې یوځایي کار وکړو.

## بیا کتنه به څومره وخت ونیسي؟

څرنګه چې ټول کېسونه یو شان ندي، نو دا مشکله ده چې وویل شي بیا کتنه به څومره وخت ونېسي. د مهاجرینو د ارزونې اداره کوښښ کوي چې زیاتره کېسونه د شپږو اونیو په ترڅ کې وارزوي. خو بیا هم د ارزونې وخت د حقایقو د څرنګوالي سره تړاو لري.

Australian Government
Immigration Assessment Authority

## د مهاجرینو د ارزونې اداره زما د کېس په هکله څهٔ معلومات لري؟

د مهاجرینو اداره به ستاسو د کېس په تړاو ټول اړونده اسناد د مهاجرینو د ارزونې ادارې څانګه ته ورکړي.
پدې کې هغه ټول اسناد شامل دي چې تاسو د پناه غوښتنې د ویزې د تر لاسه کولو لپاره د غوښتنلیک سره د مهاجرینو ادارې څانګه ته ورکړي دي. په عمومي توګه، مونږ به یواځې د مهاجرینو د ادارې پرېکړې د هغو معلوماتو پر بنسټ بیا وارزوو چې د هغې ادارې څانګه له خوا ورکړل شوي دي.

## زهٔ کولی شم چې د مهاجرینو د ارزونې ادارې ته نوي معلومات ورکړم؟

مونږ یواځې هغه وخت نوي معلومات ارزولی شو چې ځانګړي حالات یې د ارزونې لپاره په حق والی څرګند کړي.
نوي معلومات هغه معلومات دي چې د کېس سره تړاو ولري او د مهاجرینو د ادارې څانګه د پرېکړې د کولو څخه دمخه موجود نه وو.
که تاسې غواړئ چې مونږ ستاسو نوي معلومات تر ارزونې لاندې ونیسو، تاسو باید دا ووایئ چې ولې دا معلومات:

- مخکې د هغې نه چې اړونده اداره ستاسو د پناه غوښتنې د ویزې د ردولو په هکله خپله پرېکړه وکړي هغې ادارې څانګه ته ندي ورکړل شوي، یا
- هغه داسې د منلو وړ ربښتني شخصي معلومات دي چې که د مهاجرینو اداره ورباندې پوهېدلې وای، د ادارې پر پرېکړه به یې تاثیر کړی وای.

دا تشریح باید د 5 مخونو څخه نور نه وي او هغه نوي معلومات چې تاسو یې راکوي مونږ سره. هر هغه نوي معلومات چې مونږ یې غوښتنه نه ده کړې، مونږ ته باید ستاسو د قضیې په 21 ورځو کې مونږ ته د ریاست لخوا راجع کیږي.
لطفا یاد ولرئ:

- تاسو باید دا تشریح کړئ چې ولې نوي معلومات ستاسو له مخې اړوند دي.
- که تاسو د خپل هیواد په اړه د رسنیو راپورونو یا راپورونو ته مراجعه کوئ، نو تاسو باید د هغې سرچینه وپیژني.
- تاسو باید مونږ ته د راپور یوه کاپی یا اړونده استخراج هم چمتو کړو. مونږ به په عام ډول د موجوده راپورنه لپاره د عامو موجودو راپورونو یا هایپ لنکسونو لیست ونه منلو.
- هغه اسناد چې تاسو یې مونږ ته لیږل غواړئ چې په انګلستان کې نه وي باید د NAATI اعتبار لرونکي ژباړونکي لخوا د انګریزي ژباړې سره یوځای شي. که چیرې ژباړه ونکړل شي مونږ ممکن نشو کولی چې د اسنادو په اړه فکر وکړو.

هر هغه نوي معلومات چې مونږ یې غوښتې ندي مونږ ته باید ستاسو د قضیې په 21 ورځو کې مونږ ته د ریاست لخوا راجع کیږي.

په ډېرو محدودو حالاتو کې کېدای شي، له تاسو څخه وغواړو چې د خپل کېس په هکله مونږ ته نوي معلومات یا توضیحات په لیکلې بڼه راکړئ او یا یې هم په مرکه کې راته ووایئ.

## زه کولی شم چې د مهاجرینو د ارزونې ادارې ته اسناد وسپارم؟

تاسو کولی شئ چې په دې موضوعاتو لیکلي اسناد وسپارئ:

- تاسو ولې د مهاجرینو د ادارې څانګه د پرېکړې سره موافق نه یاست، او
- کومه غوښتنه یا موضوع چې تاسو د مهاجرینو ادارې څانګه ته وړاندې کړې، هغې ته پاملرنه نده شوې.

ستاسو سپارښتنه باید سم وي او باید د 5 مخونو نه ډېر نه وي او مونږ ته مونږ ته د ستاسو د قضیې په 21 ورځو کې مونږ ته د ریاست لخوا راجع کیږي.

Australian Government
Immigration Assessment Authority

## زه کولی شم هغو معلوماتو ته لاسرسی ولرم چې د مهاجرینو د ارزونې ادارې له خوا سره ساتلي دي؟

تاسو کولی شئ چې د ۱۹۸۲ کال د معلوماتو د ازادۍ د قانون پر بنسټ هغو ټولو معلوماتو ته لاس رسی ومومی چې د مهاجرینو د ارزونې ادارې ستاسو د کېس په تړاو له ځانه سره ساتلي دي. خو ځینې محدودیتونه هم شته دي.

که مونږ ونه شو کولی چې تاسو ته ځینې معلومات ښکاره کړو، موږ به تاسو ته خبر درکړو چې دا څه دي او ولې تاسو ته به ووایو چې هغه څۀ دي او ولې. مونږ به تاسو ته ووایو چې تاسو څرنګه زمونږ د هغې پرېکړې په اړه چې تاسو ته د اسنادو د نه لاسرسي په هکله شوې ده، د بیا ارزونې غوښتنه کولی شئ. معلوماتو ته د لاسرسي لپاره نور جزئیات په www.iaa.gov.au. وېبپاڼه کې موجود دي.

## د مهاجرینو د ارزونې اداره به څرنګه زما سره اړیکې ونیسي؟

د مهاجرینو د ارزونې اداره به په عمومي توګه تاسو سره د برېښنا لیک په مټ اړیکې ونیسي. مونږ کولی شو چې د ټېلېفون په مټ هم ستاسو سره اړیکې ونیسو.

تاسو کولی شئ چې اړونده لیکونه په خپله تر لاسه کړې او یا کوم بل څوک وټاکئ ( دا کس ستاسو د لیکونو د صلاحیت لرونکي تر لاسه کوونکي په توګه پېژندل کېږي). که تاسو د لیکونو د ترلاسه کولو لپاره کوم صلاحیت لرونکی کس وټاکئ، مونږ به ستاسو ټول اړونده لیکونه هغۀ ته ور استوو.

که تاسو د مهاجرینو د ادارې ځانګه د لیکونو د ترلاسه کولو لپاره بل کس وټاکئ، دا ټاکنه د مهاجرینو د ارزونې ادارې د بیا ارزونې سره تړاو نلري. که تاسو بل کس ستاسو د لیکونو د تر لاسه کولو لپاره مونږ ته راپېژنئ، تاسو باید د هغه نوم او د اړیکو د نیولو پته مونږ ته ووایاست.

تاسو باید ډېر ژر مونږ ته ستاسو سره د اړیکو د نیولو او یا ستاسو د لیکونو د صلاحیت لرونکي ترلاسه کوونکي د اډرس د جزئیاتو د بدلېدلو په هکله ووایاست. همدا راز تاسو باید ستاسو ټاکل شوي صلاحیت لرونکي کس ( که یو کس وي) او دې ادارې ته ستاسو د اډرس د بدلېدو خبر ورکړئ.

تاسو کولی شئ چې د دې برېښنالیک iaa@iaa.gov.au په مټ او د ټېلېفون په دې شمېره ۱۸۰۰۲۰۵۹۱۹ زمونږ سره اړیکې ونیسئ.

## مشوره، مرسته او استازیتوب

د مهاجرینو د ارزونې د ادارې مقررات په ساده ډول جوړ شوي او د کېسونو د پایلو راځرګندېدل په دې پورې اړه نلري چې تاسو مسلکي مشورې یا مرستي ترلاسه کړې او نه. خو بیا هم تاسو کولی شئ چې د بېلا بېلو ادارو او ځانګړو اشخاصو مشورې او مرستي تر لاسه کړئ. مونږ د هېڅا او نه د کومې مشورې ورکوونکي ادارې ملاتړ یا سپارښتنه کوو.

تاسو باید د وکیلانو د ټاکلو په وخت کې پام وکړئ، او دا خبره واضح کړئ چې هغوی د مهاجرینو د ادارې سره ثبت شوي کسان دي او په قانوني توګه ستاسو سره مرسته کولی شي.

د مهاجرت د وکیلانو یا استازو د نوم لیکنې د ادارې د دفتر ( www.mara.gov.au ) وېبپاڼه په بېلا بېلا ژبو کې د مهاجرت د وکیلانو د پیدا کولو او کارولو معلومات لري. په همدې وېبپاڼه کې تاسو کتلای شئ چې ستاسو د نظر وکیل راجستر دی او که نه.

د مهاجرینو د ارزونې د ادارې سره په تعامل کې بل څوک هم ستاسې استازیتوب کولی شي. ستاسو استازی کولی شي چې مونږ سره اړیکې ونیسي او ستاسو د کېس د اسنادو په تړاو چې زمونږ سره دي، هغو ته د لاسرسي غوښتنه وکړي. په عمومي توګه ټاکل شوی کس هم ستاسو استازی او هم ستاسو د اسنادو د ترلاسه کولو صلاحیت لرونکی کس دی.

## که زه شکایت ولرم؟

ک تاسو د مهاجرینو د ارزونې د ادارې د وړاندې شوو خدمتونو د معیار په هکله کومه توضیح یا شکایت لرئ، لطفاً د شکایت د وړاندې کولو د لارښوونو لپاره زمونږ د (www.iaa.gov.au) وېبپاڼه وګورئ.